امارت اسلامی افغانستان
اداره ملی آمادگی مبارزه با حوادث
ریاست اطلاعات و نشرات



# هفته نامه
# مدیریت حوادث

۲۹ سنبله الی ۳ میزان ۱۴۰۴

## شماره یکصدو بیست و سوم

## له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې لوی رئیس د بیلابیلو مؤسیسو له رئیسانو او استازو سره وکتل او پنځه تفاهم نامې یې ورسره لاسلیک کړې



له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی ادارې لوی رئیس، محترم الحاج ملا نورالدین ترابي د بیلابیلو مؤسیسو له رئیسانو او استازو سره د ۱۴۴۷ کال د ربیع الاول ۲۸ نېټه وکتل او پنځه تفاهم نامې یې ورسره لاسلیک کړې.

ښاغلي ترابي صاحب له ټولو همکارو مؤسیسو څخه مننه وکړه، نوموړی په خپلو خبرو کې وویل موږ په هېواد کې د خلکو د ژغورنې او د زیانونو د کمولو لپاره هره لحظه هڅه کوو.

همدارز، ښاغلي ترابي صاحب زیاته کړه چې موږ ټولو مؤسسو ته ډاډ ورکوم چې زموږ اداره به پر وخت او په جدی توګه خپل مسؤلیتونه...

ادامه در صفحه۲

### له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې اوونیزه اداری غونډه ترسره شوه

د وزیرانو شورا د ۱۴۴۳/۵/۱۶نېټې د (۱۵) ګڼې مصوبې د ۱ مادې پر بنسټ، له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې اوونیزه اداری غونډه د دې ادارې د سرپرست الحاج ملا نورالدین ترابي په مشرۍ او د مرکزی رئیسانو...

ادامه در صفحه ۳

### د پېښو چارو د همغږۍ معین د خوست ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست څخه څارنه وکړه او د دې ولایت له مرستیال والي سره یې وکتل

له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې د پېښو چارو د همغږۍ معین، محترم الحاج ملا عبدالولي څارنوال (حاجی وارث)، د یو تخنیکی، فنی او مسلکی پلاوی په مشرۍ، د هېواد ولایتونو ته د رسمی سفر په دوام، له لغمان...

ادامه در صفحه ۴

### له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې په تورغندی بندر کې له قزاقستان هېواد څخه ۹۵۱.۹۰۶ ټنه بلاعوضه مرستې تر لاسه کړې




له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې د لوی رئیس، محترم الحاج ملا نورالدین ترابي د هڅو په پایله کې او د بهرنیو چارو وزارت په همغږۍ، له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې د مرستندویه...

ادامه در صفحه ۵

# له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې لوی رئیس د بیلابیلو مؤسیسو له رئیسانو او استازو سره وکتل او پنځه تفاهم نامې یې ورسره لاسلیک کړې



له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی ادارې لوی رئیس، محترم الحاج ملا نورالدین ترابی د بیلابیلو مؤسیسو له رئیسانو او استازو سره د ۱۴۴۷ کال د ربیع الاول ۲۸ نېټه وکتل او پنځه تفاهم نامې یې ورسره لاسلیک کړې.
ښاغلې ترابی صاحب له ټولو همکارو مؤسیسو څخه مننه وکړه، نوموړی په خپلو خبرو کې وویل موږ په هېواد کې د خلکو د ژغورنې او د زیانونو د کمولو لپاره هره لحظه هڅه کوو.
همداراز، ښاغلې ترابی صاحب زیاته کړه چی موږ ټولو مؤسسو ته ډاډ ورکوم چې زموږ اداره به پر وخت او په جدی توګه خپل مسؤلیتونه ترسره کوی او ټول کارونه به یې پر وخت بشپړوی.
وروسته، د ګډونوالو مؤسیسو رئیسانو او استازو هم د یادی ادارې له لوی رئیس څخه مننه وکړه چې د ګډ کار زمینه یې برابره کړې چی په نتیجه کې به په ګډو هڅو سره کارونه په چټک او منظم ډول پر مخ ولاړ سی. هغوی ډاډ ورکړ چې د تفاهم‌نامو د تطبیق لپاره به ژر تر ژره عملی ګامونه واخلی او د خلکو د اړتیاوو پر بنسټ به د مرستو او خدماتو پروسه پرمخ یوسی.

① لمړی تفاهم نامه:

د افغانستان د بیا رغونی او پراختیا د همغږۍ مؤسیسې سره د یو سل اته زره نهه سوه شپږ څلویښت(۱۰۸۹۴۶) څلویښت ډالرو په ارزښت د ګډو همکاریو تفاهم نامه لاسلیک سوه، چی له مخی به یې د غور ولایت په ټولو ولسوالیو کی (۳۴۸۶) زیانمنو کورنیو ته مرستی وویشی، چی هری کورنۍ ته به ۱۰۰ کیلو ګرامه اوړه، ۹.۱۰ کیلو ګرامه غوړی، ۱۲.۵ کیلو ګرامه دال نخود او ۱ کیلو ګرامه آیوډین لرونکی مالګه شامل وی. همداراز، په ځینو مواردو کې د پنځه کلنۍ څخه کم عمر لرونکو ماشومانو لپاره ځانګړی مغذی خواړه هم ورکول کېږی، تر څو د خوارځواکۍ مخه ونیول سی.

② دویمه او دریمه تفاهم نامه:

د افغانستان د خلکو لپاره د بشرپاله مؤسسې سره د دېرش زره او شپږ سوه نه ویشت (۳۰,۶۲۹) ډالرو په ارزښت دوې تفهام نامې لاسلیک کړې، له مخې به یاده موسسه، چې د پروژې تمویلوونکی یې د خوړو نړیوال پروګرام (WFP) دی، د کندهار ولایت په ټولو ولسوالیو کې ۳۸۶ کورنیو ته او د ارزګان ولایت په ټولو ولسوالیو کې ۲۹۱ کورنیو ته د طبیعی پېښو رامنځته کېدو پر مهال خوراکی مرستې ووېشی، په دې توګه چې هرې کورنۍ ته به ۱۰۰ کیلو اوړه، ۱۰ لیټره غوړی، نیم کیلو مالګه او ۱۲.۵ کیلو دال ووېشل سی.

③ څلورمه تفاهم نامه:

د پراختیا سنايي موسسې سره د دوه سوه دوه دېرش زره او دوه سوه پنځه څلوېښت (۲۳۲,۲۴۵) ډالرو په ارزښت تفاهم نامه لاسلیک سو. له مخې به یاده موسسه، په فراه او غزني ولایتونو کې ۱۳۶ کورنیو ته د سرپناه د جوړولو او ترمیم لپاره نغدي مرستې ووېشي، په دې توګه چې د فراه ولایت په بکوا ولسوالۍ کې به ۷۰ کورنیو هرې یوې ته د کور جوړولو لپاره په دوو قسطونو کې ۲,۰۰۳ ډالره، ۳۲ کورنیو هرې یوې ته په اوسط ډول د کور د ترمیم لپاره ۵۵۰ ډالره او ۱۵ کورنیو هرې یوې ته په اوسط ډول د کور د ترمیم لپاره ۳۳۰ ډالره ووېشل شي. همدارنګه په غزني ولایت کې به یوې کورنۍ ته د کور جوړولو لپاره ۲,۰۰۳ ډالره او ۱۸ کورنیو هرې یوې ته په اوسط ډول د کور د ترمیم لپاره ۵۵۰ ډالره ووېشل سي.

④ پنځمه تفاهم نامه:

د همکارۍ او پراختیا نړیوالې مؤسیسې سره د د پنځه سوه نهه اویا زره درې سوه درې اویا ډالرو په ارزښت تفاهم نامه لاسلیک سوه، چې له مخې به یې د هرات ولایت په زندجان ولسوالۍ کې په درې پړاوونو کې په لاندې ډول سره خدمتونه ترسره سی.

لومړی پړاو:

۱. په ټولنه کې به د پېښو د خطرونو د کمولو، د عامه پوهاوی د ورکولو او مدیریت په موخه د یادې ولسوالۍ په ۳۰ کلیو کې د ۲۵،۲۰۰ کسانو لپاره ٦ کمېټې جوړې شی، چې په هره کمېټه کې به ۱۲ تنه نارینه

2. دا موسسه به د زنده جان ولسوالۍ په ۳۰ کلیو کې له هغه کسانو سره یوځای کار کوی، چې په دې برخه کې ورته ترنینګونه ورکړل شوی دی.

3. د جوړو شویو ٦ کمېټو غړی به دې ټولنې نورو وګړو ته په اړونده برخه کې معلومات ورکوی.

4. په زنده جان ولسوالۍ کې به ۱۷۰ مسلکی او غیر مسلکی وګړو ته د ټولنې د زیربناوو د بیارغونې په موخه د کار کولو په بدل کې د نغدی پیسو ورکول.

5. په زنده جان ولسوالۍ کې د لومړنۍ خبرتیا د سستم پیاوړی کول.

6. د جوړې کمېټې غړو ته د لومړنیو بیړنیو کړنو په اړه روزنه ورکول او یادو وګړو ته د لومړنیو صحی مرستو ترننیګ او کیټونو وېشل.

دویم پړاو:

۱. د زنده جان ولسوالۍ په ۳۰ کلیو کې ٦ د چټک غبرګون کمېټو ته ترنینګونه ورکول.

2. له اړونده موسسو او یا دولتی ادارو سره په همغږۍ د هر اړخیزو چټکو اړتیاوو ارزونه ترسره کول.

3. له طبیعی پېښو ځخه اغیزمنو کورنیو ته بیړنی توکی او ژمنی کیټونه وېشل.

4. ۳۵۰ اړمنو کورنیو ته د درېیو میاشتو لپاره ۲۴۰ ډالر ورکول.

دریېم پړاو:

۱. د دیریت کولو لپاره د ښځو د کمېټو د ظرفیت لوړول.

۲. د جوړو شویو کمېټو ښځینه غړو ته د لومړنیو روغتیایی مرستو په اړه د پوهاوی ور کول او هغوی ته صحی کیټونه وېشل.

۳. د طبیعی پېښو ځخه اغیزمنو شویو ۳۷۰ کورنیو ته د شخصی حفظ الصحې، روغتیا او عزت ساتلو کیټونه چمتو کول.

## له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې اوونیزه اداری غونډه ترسره شوه

د وزیرانو شورا د ۱۴۴۳/۵/۱۶نېټې د (۱۵) ګڼې مصوبې د ۱ مادې پر بنسټ، له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی ادارې اوونیزه اداری غونډه د دې ادارې د سرپرست الحاج ملا نورالدین ترابی په مشرۍ او د مرکزی رئیسانو په ګډون د دې ادارې په انګړ کې د ۱۴۴۷ کال د ربیع الآخر ۱ نېټه ترسره شوه.

غونډه د قران کریم د څو مبارکو آیتونو په تلاوت سره پیل شوه.

وروسته د اجنډا په هره موضوع په جلا جلا ډول هر اړخیزه بحث وشو او د غونډې د ګډونوالو نظرونه په وار سره راټول شول.

د غونډې په پای کې داجنډا پر ټولو موضاعوتو باندی لازم تصمیمونه ونیول سول.

# د پېښو چارو د همغږۍ معین د خوست ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست څخه څارنه وکړه او د دې ولایت له مرستیال والي سره یې وکتل

له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی ادارې د پېښو چارو د همغږۍ معین، محترم الحاج ملا عبدالولی څارنوال (حاجی وارث)، د یو تخنیکی، فنی او مسلکی پلاوی په مشرۍ، د هېواد ولایتونو ته د رسمی سفر په دوام، له لغمان، نورستان، کونړ، ننګرهار، بامیان، غور، دایکنډی، میدان وردګ، لوګر، پکتیا او پکتیکا ولایتونو څخه د لیدنو وروسته، د ۱۴۴۷ کال د ربیع الاول ۲۸ نېټه خوست ولایت ته ورسېد.

په پیل کې، د پېښو چارو د همغږۍ محترم معین د یاد ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست نماینده او د خپل مل پلاوی په شتون کې د خوست ولایت له مرستیال والی، محترم مولوی محبوب شاه قانت سره وکتل.

دغه ناسته د قرآن مجید د څو مبارکو آیاتونو په تلاوت سره پیل شوه.

په دې ناسته کې، د پېښو چارو د همغږۍ محترم معین د نورو ولایتونو د سفرونو یادونه وکړه او د سفر موخه یې له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاستونو د عمومی وضعیت څېړل، د اسلامی امارت د عالی مقام مشرتابه د فرمانونو، احکامو او مکتوبونو د پلی کېدو څارنه، د مالی او اداری چارو ارزونه، د هوکړه لیکونو د پلی کېدو څارنه، د وقایوی پروژو ارزونه، د بشردوستانه مرستو د وېش تعقیبول، د ماین پاکۍ، د نشراتو چارو او همدارنګه د موجودو ستونزو او وړاندیزونو اورېدنه یاده کړه.

هغه ټینګار وکړ چې له پېښو سره د مبارزې ملی اداره ژمنه ده چې د خپلو قانونی صلاحیتونو او دندو په چوکاټ کې به د وقایوی پروژو د پلې کېدو، د زیانمنو بېړنیو اړتیاوو د پوره کولو او د طبیعی پېښو او خطرونو د مدیریت د ښه والی په برخه کې هر اړخیزه همکاری وکړی.

وروسته د خوست محترم مرستیال والی، د زیانمنو په برخه کې د یادې ادارې له هڅو او رسېدنې څخه د قدردانۍ ترڅنګ د دې ولایت زیانمنېدو ته په اشارې سره وویل چې د خوست خلک د طبیعی پېښو له امله په لوړه کچه زیانمن دی او د بشردوستانه مرستو او وقایوی پروژو ته اړتیا لری.

وروسته، یاد پلاوی د خوست ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست څخه لیدنه وکړه او د دې ریاست د چارو بهیر یې له نږدې وڅېړه. د لیدنې پر مهال، د پېښو چارو د همغږۍ معین له کارکوونکو سره خبرې وکړې، د دوی ستونزې او وړاندیزونه یې واورېدل، او د اسنادو او فعالیتونو د ارزونې ترڅنګ یې کارکوونکی د دندو د لایحې پر بنسټ د چټکو، پر وخت او اغېزمنو خدماتو وړاندې کولو ته وهڅول.

د یادونې وړ ده، چې یاد پلاوی په دغه ریاست کې خپل څارنیز او رهنمودی بهیر پیل کړ.

## له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې په تورغندي بندر کې له قزاقستان هېواد څخه ۹۵۱.۹۰۶ ټنه بلاعوضه مرستې تر لاسه کړې




له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی ادارې د لوی رئیس, محترم الحاج ملا نورالدین ترابي د هڅو په پایله کې او د بهرنیو چارو وزارت په همغږۍ, له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی ادارې د مرستندویه هېوادونو ترمنځ د همکاریو د پیاوړتیا په برخه کې د قزاقستان هېواد له لوری شوې ۹۵۱.۹۰۶ ټنه خوراکی او غیرخوراکی بلاعوضه مرستې د هرات ولایت په تورغندی بندر کې د ۱۴۴۷ کال د ربیع الآخر ۳ نېټه ترلاسه کړې.

د مرستو د ترلاسه کولو په مراسمو کې د هرات ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ رئیس, مولوی محمد موسی اشعری د دې ادارې د مشرتابه د مننې پیغام شریک کړ او زیاته یې کړه چې دغه مرستې به پر وخت د مستحقو خلکو لاس ته ورسېږي.

په همدې مهال, د قزاقستان هېواد استازی وویل چې د افغانستان خلک له ماشومانو, ځوانانو او زاړه نسل څخه ټول مرستو ته اړتیا لري، او د نن ورځې د خوراکی او غیرخوراکی مرستو دا جوپه د دواړو هېوادونو د دوستانه اړیکو او نېک نیت ښکارندوی ده.

د یادونې وړ ده, چې یادې مرستې په لاندې ډول دي:

۸۰۰,۱۵۰ کیلو اوړه (۱۶۰۰۳ بورۍ ۵۰ کیلویی)، ۱۰۰۲ بستې ۲۱ کیلویې غوښه ، ۶۵,۱۵۰ کیلو بوره (۱۲۹۹ بورۍ ۵۰ کیلویې)، ۷۲۰ بوجې ۲۵ کیلویې چای، ۱۹۰۰ تختې کمپلې، ۴۲۴ بابه ۱۰ کسیزه خیمې او ۷۶ بابه ژمنې خیمې.

---

## د کونړ ولایت د څوکۍ ولسوالۍ په دیوه ګل دره کې د وروستۍ زلزلې له امله د ۹۹۰ شهیدانو ورڅه, ټپیانو او زیانمنو کورنیو ته نغدي او غیر نغدي مرستې ووېشل شوې



د کونړ ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست او د کار او ټولنیزو چارو د ریاست ګډې کمېټې د خیریه بنسټونو، مرستندویه ادارو او خیرو کسانو په ملاتړ، د کونړ ولایت د څوکۍ ولسوالۍ د دیوه‌ګل درې په بېلابېلو سیمو کې د وروستۍ زلزلې له امله د ۹۹۰ تنو شهیدانو، ټپیانو او زیانمنو کورنیو ته د ۱۴۴۷ کال د ربیع الآخر ۲ نېټه نغدې او غیر نغدې مرستې ووېشلې.

په دې لړ کې، د حاجی سید احمد سیلاب له لوری ۶۰۰ کورنیو هرې یوې ته غیر خوراکی توکی لکه، البسه، صابون، د ګاز ډبه او د ماشومانو د لوبو وسایل, د امید بهار شرکت له لوری ۱۰۷ کورنیو هرې یوې ته ۵۰۰۰ افغانۍ, د NCA موسسې له لوری ۹۵ کورنیو هرې یوې ته ۳۴۰ ډالر, د پوهنې او چاپېریال د انجمن له لوری ۷۵ کورنیو هرې یوې ته ۳۰۰۰ افغانۍ, د حاجی نعیم الله له لوری ۲۰ کورنیو هرې یوې ته ۲۰۰۰ افغانۍ, د افغان خیریه بنسټ له لوری ۷۶ کورنیو هرې یوې ته ۵۰۰۰ افغانۍ او د مولوی سلیم الله له لوری ۱۷ کورنیو هرې یوې ته ۳۰۰۰ افغانۍ ووېشل شوې.

د یادونې وړ ده, چې د مرستو د وېش بهیر داسې برابر شوې و, چې که یوې کورنۍ څو شهیدان یا ټپیان لرل, د هر یو لپاره جلا مرسته په پام کې نیول شوې وه.

د مرستو ترلاسه کوونکو له اړوندو مسؤلینو، خیریه بنسټونو او خیرو کسانو څخه مننه او خوښی څرګنده کړه.

# د کونړ ولایت د څوکۍ ولسوالۍ په دیوه ګل دره کې د ۱,۰۰۶ شهیدانو ورثه، ټپیانو او زیانمنو کورنیو ته نغدي او خوراکی مرستې وویشل شوې




د کونړ له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست او د کار او ټولنیزو چارو ریاست ګډې کمیټې، په تېرو څلورو ورځو کې د مرستندویه بنسټونو، خیریه مؤسسو او خیرو کسانو په ملاتړ، د ۱۴۴۷ کال د ربیع الاول ۳۰ نېټه د کونړ ولایت د څوکۍ ولسوالۍ د دیوه‌ګل درې په بېلابېلو سیمو کې د وروستۍ زلزلې له امله د شهیدانو، ټپیانو او زیانمنو ۱,۰۰۶ کورنیو ته نغدي او خوراکی مرستې ووېشلې.

په دې لړۍ کې، د حاجی خان آغا له لوری د ۳۲ شهیدانو له کورنیو سره مرسته وشوه، چې د ۳۱ شهیدانو کورنیو هرې یوې ته ۶۰۰۰ افغانۍ او یوې کورنۍ ته ۱۲۰۰۰ افغانۍ.، د حاجی مالک له خوا د ۲۴ شهیدانو کورنیو له جملې ۲۱ کورنیو هرې یوې ته ۲,۰۰۰ افغانۍ او ۳ کورنیو هرې یوې ته ۳,۰۰۰ افغانۍ.، د ډاکتر عنایت الرحمن له لوری د ۲۵ شهیدانو کورنیو هرې ته ۵,۰۰۰ افغانۍ، د استاد نعمت‌الله کریاب له لوری د ۱۵۰ شهیدانو، ټپیانو او زیانمنو کورنیو هرې یوې ته ۵,۰۰۰ افغانۍ، د عزت‌الله قاری‌زاده له لوری ۷۰ کورنیو هرې یوې ته ۳,۰۰۰ افغانۍ، د حاجی بلال او د هغه ملګرو له لوری د ۱۴ شهیدانو کورنیو هرې یوې ته ۵,۰۰۰ افغانۍ، د مطیع‌الله مخلص خیریه بنسټ له لوری ۲۳ کورنیو هرې یوې ته خامه غوښه، د مولانا جلال‌الدین محمد بلخی خیریه بنسټ له لوری ۱۳۵ کورنیو هرې یوې ته ۵,۰۰۰ افغانۍ، د امید خیریه بنسټ له لوری ۱۷۵ کورنیو هرې یوې ته ۲,۰۰۰ افغانۍ، د سبحان‌الله له لوری د ۷ شهیدانو کورنیو هرې یوې ته ۵,۰۰۰ افغانۍ، د حاجی خالد له لوری د صنعت او معدن سکتور د استازی په توګه ۸۰ کورنیو هرې یوې ته ۵,۰۰۰ افغانۍ، د المواسات خیریه بنسټ له لوری د ۲۰ یتیمانو څخه ۱۹ تنو هر یو ته ۴,۰۰۰ افغانۍ او یو تن ته ۳,۵۰۰ افغانۍ، د قاری نصیرالله له لوری ۱۳ کورنیو هرې یوې ته ۳,۰۰۰ افغانۍ، د مولوی مسلم له لوری ۳۰ کورنیو هرې یوې ته ۱,۰۰۰ افغانۍ، د روح‌الله له لوری ۲۰ کورنیو هرې یوې ته ۲۰۰۰ افغانۍ، د حاجی خان آغا د خیریه بنسټ له لوری ۷۵ کورنیو هرې یوې ته ۳,۰۰۰ افغانۍ او ۲۴ نورو کورنیو هرې یوې ته ۶,۰۰۰ افغانۍ، د حاجی سنګر او د بلجیم د جوماتونو له لوری ۸۳ کورنیو هرې یوې ته ۱۰,۰۰۰ افغانۍ، د حاجی سبحان‌الله له لوری ۱۷ کورنیو هرې یوې ته ۵,۰۰۰ افغانۍ ووېشل شوې او د حاجی عمران له لوری ۱۵ کورنیو هرې یوې ته خوراکی توکی لکه اوړه، وریجې، غوړی، دال، لوبیا، بوره، مالګه او وچ شین چای ووېشل شول.

د یادونې وړ ده چې دا مرستې داسې تنظیم شوې وې، چې که په یوه کورنۍ کې څو شهیدان یا ټپیان موجود وی، نو د هر شهید پر سر او ټپی ته جلا مرسته ووېشل شوه.

همدارنګه، د مرستو ترلاسه کوونکو له مسؤلینو، مرستندویه ادارو او خیرو کسانو څخه مننه او قدردانی وکړه.

# له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې او د ری اکټ (REACT) نړیوالې مؤسسې ترمنځ تخنیکی غونډه ترسره شوه




له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی ادارې او د ری اکټ نړیوالې مؤسسې ترمنځ د ۱۴۴۷ کال د ربیع الاول ۲۷ نېټه د دې ادارې په انګړ کې یوه تخنیکی غونډه ترسره شوه. په دې غونډه کې، له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی ادارې له لوری د بهرنیو اړیکو آمر، محترم برهان الدین شینواری او تخنیکی پلاوی، او د یادې مؤسسې لخوا، د نړیوالو عملیاتو مسؤل محترم پاول ټایلر او د هغوی نړیوالو څواب ویونکو ګډون درلود.

په دې غونډه کې، له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی ادارې تخنیکی پلاوی، د دې موسسې د قدردانی کولو ترڅنګ، د طبیعی پېښو د مدیریت او د طبیعی پیښو په وړاندې د زیان منې د کمولو په برخه کې د نړیوالو بنسټونو ترمنځ د همغږۍ او همکارۍ پر اهمیت ټینګار وکړ، او همدارنګه یې هیله څرګنده کړه چې ګډه همکاری کولای شی د پېښو د رامنځته کېدو په وخت کې د غوره او اغیزمن غبرګون لپاره لاره هواره کړی.

ورته مهال، د ری اکټ موسسې پلاوی، چې د وروستۍ زلزلې په تړاو افغانستان ته راغلی و، په دې غونډه کې، له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی ادارې سره د همکارۍ ژمنه څرګنده کړه او همدارنګه یې د طبیعی پېښو د مدیریت او بیړنی غبرګون په برخه کې د دې ادارې د ظرفیتونو د پیاوړتیا لپاره د دې مؤسسې چمتووالی اعلان کړ.

د یادونې وړ ده، چې د ری اکټ (REACT) موسسه یوه برتانوی غیر دولتی بنسټ دی، چې د طبیعی پېښو د مدیریت په برخه کې فعالیت کوی او په بیړنیو حالاتو کې په مختلفو هېوادونو کې بشری مرستې چمتو کوی.

# ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت بلخ برای ۱,۶۳۵ خانواده آسیب‌دیده مساعدت نقدی توزیع کرد




بر اساس تفاهم‌نامه امضا شده میان اداره ملی آمادگی مبارزه با حوادث و مؤسسه SFL، ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت بلخ با همکاری مالی این مؤسسه که تمویل‌کننده پروژه آن برنامه جهانی غذا (WFP) می‌باشد، برای ۱,۶۳۵ خانواده آسیب‌دیده از خشکسالی در ولسوالی کشنده آن ولایت پس از سروی بتاریخ ۲۸ ربیع الاول سال ۱۴۴۷ هـ ق مساعدت نقدی توزیع نمود.

در این روند، به هر خانواده در حضور مسئولین مبلغ ۲,۹۰۰ افغانی توزیع گردید که در مجموع چهار میلیون و هفتصد و چهل و یک هزار و پنجصد (۴,۷۴۱,۵۰۰) افغانی برای این خانواده‌ها تخصیص یافته بود.

## په پکتیکا ولایت کې د پېښو چارو د همغږۍ معین د یو میلیون افغانیو بیړنۍ پروژې له بشپړېدو څخه لیدنه وکړه




د عالیقدر امیرالمؤمنین حفظه الله د هدایت پر بنسټ، د هېواد په کچه د طبیعي پېښو د خطرونو د کمولو لپاره د عام المنفعه او وقایوي پروژو د پلي کولو په موخه هر ولایت ته یو میلیون افغانۍ ځانګړې شوې دي.

په همدې لړ کې، له پېښو سره د مبارزې امادګۍ ملي اداري یادې پیسې پکتیکا ولایت ته ځانګړې کړې. د دې ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست، د ولایت مقام د هدایت او د سیمه ییزو خلکو د غوښتنې په پام کې نیولو سره، د ۱۸ کیلومتره سړک د ترمیم او جغل اچونې پروژه او د نورو ۳۵ کیلومتره لارو د هوارولو چارې د ۱۴۴۷ کال د ربیع الاول ۲۷ نېټه بشپړې کړې دي.

دغه پروژه چې ټولټال یې ارزښت یو میلیون افغانۍ دی، د ټولګټو چارو محترم وزارت او د خیر کوټ لوا ماشینرۍ‌په مرسته په پکتیکا ولایت کې د دوو میاشتو مودې په ترڅ کې عملي شوې او اوس یې د سیمې د اوسېدونکو د تګ راتګ لپاره د پام وړ آسانتیاوې رامنځته کړې دي.

ترمیم او بیا رغول شوی سړک چهاربران، کومل او نعمت‌آباد ولسوالی له مرکز ښرنې سره یو ځای کوی، چې د خلکو د ټولنیزو خدماتو ته د لاسرسی ښه والی، اقتصادی وده، او د طبیعی پېښو د خطرونو د کمولو په برخه کې به ارزښتناک رول ولری.

محترم الحاج ملا عبدالولی څارنوال (حاجی وارث)، د پېښو چارو د همغږۍ معین، ورسره مل پلاوی د خپل کاری سفر په ترڅ کې د دې ولایت له پېښو سره د مبارزې امادګۍ رئیس محترم حاجی قاری عبدالهادی، په ګډون، له یادې پروژې څخه لیدنه وکړه. هغه د دې پروژې بشپړول د پېښو له امله د زیان منونکو حالتونو د کمولو او د سیمې د خلکو لپاره د آسانتیاوو د برابرولو په برخه کې یو مهم ګام وباله.

همدارنګه، د سیمې خلکو د پېښو د همغږۍ له معین سره په کتنه کې دعالیقدر امیرالمؤمنین حفظه‌الله د مهربانۍ او له پېښو سره دمبارزی امادګې ملی ادارې له رهبری څخه مننه وکړه او د دې ولایت په کچه د نورو عام المنفعه پروژو د پلی کېدو غوښتنه یې وکړه

## د کندز ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۱۲۸۹ اړمنو کورنیو ته خوراکی مرستې ووېشلې




له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی ادارې او د ASIO موسسې تر منځ د لاسلیک شوی هوکړه لیک له مخې، د کندز ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د یادې موسسې په مالی همکارۍ چې د پروژې تمویلوونکی یې د خوړو نړیوال پروګرام (WFP) دی، د دې ولایت په دشت ارچی ولسوالۍ کې ۱۲۸۹ اړمنو کورنیو ته له سروې وروسته د ۱۴۴۷ کال د ربیع الاول ۲۷ نېټه خوراکی مرستې ووېشلې.

په دې لړۍ کې هرې کورنۍ ته د مسؤلینو په شتون کې ۵۰ کیلو اوړه، ۵ لیتره غوړی، نیم کیلو مالګه او ۶.۲۵ کیلو دال وویشل شول.

## د بغلان ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۳۸۱ سېلاب ځپلو کورنیو ته نغدې مرستې ووېشلې



د بغلان ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د کډوالۍ نړیوال سازمان (IOM) په مالي ملاتړ، د دې ولایت په ګذرګاه نور ولسوالۍ کې ۳۸۱ کورنیو ته چې د تېرو سېلابونو له امله یې کورونه ویجاړ شوي وو، له سروې وروسته د ۱۴۴۷ کال د ربیع الاول ۲۷ نېټه د کورونو د ترمیم لپاره نغدې مرستې ووېشلې.

په دې لړۍ کې هرې کورنۍ ته د مسؤلینو په شتون کې ۱۸،۶۰۰ افغانۍ ووېشل شوې، چې ټولټال اووه میلیونه او شپږ اتیا زره او شپږ سوه (۷،۰۸۶،۶۰۰) افغانۍ نغدې پیسې د یاد شمېر کورنیو لپاره ځانګړې شوې وې.

## د خوست ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۵۸۱ کورنیو ته خوراکی او غیرخوراکی مرستې ووېشلې




د خوست ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست، په یاد ولایت کې د طبیعي پېښو له امله ۵۸۱ زیانمنو شویو او اړمنو کورنیو ته له سروې وروسته د ۱۴۴۷ کال د ربیع الاول ۲۷ نېټه خوراکی او غیرخوراکی مرستې ووېشلې.

په دې لړۍ کې هرې کورنۍ ته د مسؤلینو په شتون کې، ۵۰ کیلو غنم، ۲ تختې کمپلې او ۱۰ کلچې صابون ووېشل شو.

د یاد ونې وړ ده، چې د مرستو تر لاسه کوونکو کورنیو له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست له مسؤلینو څخه د قدردانۍ کولو تر څنګ د مغوی د هڅو او بشردوستانه خدمتونو ستاینه وکړه او په راتلونکې کې د دې ډول نورو مرستو غوښتونکې شول.

## ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت ننگرهار برای ۱۰۹ خانواده آسیب‌دیده کمک‌های غذایی توزیع کرد

بر اساس تفاهم‌نامه‌ای امضاشده میان اداره ملی آمادگی مبارزه با حوادث و مؤسسه ARCIO، ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت ننگرهار با همکاری تخنیکی مؤسسه متذکره و حمایت مالی WFP، بتاریخ ۲۷ ربیع الاول سال ۱۴۴۷ هـ ق برای ۱۰۹ خانواده آسیب‌دیده در ولسوالی‌های شینواری، کوت و بتی‌کوت مساعدت غذایی توزیع نمود.

در این پروسه پس از سروی با حضور مسئولین، به هر خانواده ۱۰۰ کیلو آرد، ۹.۱ کیلو روغن، ۱۲.۵ کیلو دال و ۱ کیلو نمک توزیع گردید.

## د ننگرهار ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادگۍ ریاست ۲۹۸ زلزله ځپلو کورنیو ته غیرخوراکي مرستې ووېشلې



له پېښو سره د مبارزې آمادگۍ ملي اداري او د ماشومانو د ملاتړ موسسې (Save the Children) ترمنځ د لاسلیک شوی هوکړې لیک پر بنسټ، د ننگرهار ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادگۍ ریاست د یادې موسسې په مالي ملاتړ، د ۱۴۴۷ کال د ربیع الاول ۲۷ نېټه د دې ولایت په دره نور ولسوالۍ کې ۲۹۸ کورنیو ته چې د وروستۍ زلزلې له امله زیانمنې شوې وې، غیرخوراکي مرستې ووېشلې.
په دې لړۍ کې هرې کورنۍ ته د مسؤلینو په شتون کې، د ترپال، کلنگ، میخ، دستکشونه، پلاستیک، لاس گاډی، ترازو، یو تخته ترپال او نورو اړینو توکو لرونکی یو بېړنی کېټ ووېشل شو.
له مرستو برخه منو کورنیو له پېښو سره د مبارزې آمادگۍ ملي اداري له مشرتابه او همکاره موسسې څخه قدرداني وکړه، د مغوی ستونزو ته له پاملرنې او پر وخت ځواب وینې له کبله خوښي څرگنده کړه او د دې ډول مرستو د دوام غوښتنه یې وکړه.

## ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت لغمان برای ۷۸ خانواد شهدا و مجروحان کمک نقدی توزیع کرد

ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت لغمان برای ۷۸ خانواده شهدا و مجروحان بتاریخ ۲۷ ربیع الاول سال ۱۴۴۷ هـ ق کمک های نقدی توزیع کرد. در این روند، برای خانواده‌های پنج شهید در مجموع یک لک(۱۰۰,۰۰۰) افغانی طوری‌که برای هر خانواده ۲۰۰۰۰ افغانی و برای خانواده‌های ۷۳ زخمی در مجموع هفت صد و سی هزار (۷۳۰,۰۰۰) افغانی، به هر خانواده مبلغ ۱۰۰۰۰ افغانی مساعدت صورت گرفت.
در مراسم توزیع این کمک‌ها، معاون والی لغمان مفتی محمد یوسف جمالزی، رئیس آمادگی مبارزه با حوادث، قاری خیرمحمد غازی و شماری از مسئولان ادارات محلی حضور داشتند.



## په پکتیکا ولایت کې ۴۹ بېلا بېل ډوله ناچاوده توکي کشف او خنثی کړل شول



د پکتیکا ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادگۍ ریاست د هیلوترسټ ماین پاکۍ نړیوالې موسسې د همغږۍ له مخې، د ۱۴۴۷ کال د ربیع الاول ۲۸ نېټه د یاد ولایت د شکین ولسوالۍ په شمس الدین چینی کلي کې عملیات وکړل، چې د دې عملیاتو په پایله کې یې ۴۹ بېلابېل ډوله ناچاوده توکي په خوندي توگه یې له منځه یووړل.
یاد ناچاوده توکي، چې له تېرو جگړو څخه پاتې شوي وو، د سیمې د خلکو ځان او مال یې له خطر سره مخ کړي وو، چې له خنثی کولو وروسته یې د احتمالي مرگ ژوبلې مخنیوی وشو.

## د ننګرهار ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۳۱ زیانمنو کورنیو ته خوراکي مرستې ووېشلې




له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې او د VDO موسسې تر منځ د لاسلیک شوی هوکړه لیک له مخې، د ننګرهار ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ د یادې موسسې په تخنیکي همکارۍ او د خوړو نړیوال پروګرام (WFP) په مالي ملاتړ، د دې ولایت په کوزکونړ ولسوالۍ کې ۳۱ زیانمنو کورنیو ته له سروې وروسته د ۱۴۴۷ کال د ربیع الاول ۲۷ نېټه خوراکي مرستې ووېشلې.

په دې لړۍ کې هرې کورنۍ ته د مسؤلینو په شتون کې ۱۰۰ کیلو اوړه، ۱۰ کیلوغوړي، ۱۲.۵ کیلو دال او ۱ کیلومالګه وویشل شوه.

د یادونې وړ ده، چې یادو کورنیو ته به په راتلونکې میاشت کې هم خوراکي مرستې ووېشل شي.

## د لغمان ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۶۵ زیانمنو کورنیو ته غیر خوراکي مرستې ووېشلې

د لغمان ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د کډوالۍ نړیوال سازمان (IOM) په مالي ملاتړ، د ۱۴۴۷ کال د ربیع الاول ۲۷ نېټه د دې ولایت په بېلابېلو ولسوالیو کې ۶۵ زیانمنو کورنیو ته غیر خوراکي مرستې ووېشلې.

په دې لړۍ کې هرې کورنۍ ته د سیمه ییزو مسؤلینو په شتون کې، د پخلنځي ۱ بشپړکیټ، د کور جوړولو ۱ بیړنی کټ، ۱ هایجن کیټ، ۱ پلاستیکي فرش، د کمپلو ۱ کیټ، سولري څراغونه او یو باب خیمه وویشل شوه.




## ۸ نوع مختلف النوع منفجر ناشده در ولایت فراه کشف و به گونه مصوون خنثی شد

بر اساس تفاهم‌نامه اداره ملی آمادگی مبارزه با حوادث با مؤسسه Area، ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت فراه در هماهنگی با مؤسسه ماین‌پاکی Area در قریه نوآباد ولسوالی فراه‌رود آن ولایت بتاریخ ۲۷ ربیع الاول سال ۱۴۴۷ هـ ق عملیات ماین پاکی را انجام داد.

در نتیجه این عملیات، ۵ فیر مرمی راکت، ۲ فیر مرمی هاوان و یک حلقه بم خوشه‌ای کشف و به گونه مصون از بین برده شد.

این مواد انفجاری مردم محل را با خطر جانی و مالی روبه‌رو ساخته بود که پس از خنثی‌سازی آن، از وقوع تلفات احتمالی جلوگیری به عمل آمد.



## په لوګر ولایت کې یوه کړۍ روسی بمب کشف او خنثی کړل شو



د لوګر ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د همغږۍ له مخې، د ډافا ماین پاکۍ مؤسسې تخنیکی ټیم یوه کړۍ روسی بمب چې ۱۰۰ کیلوګرامه وزن یې درلود، د ازرې ولسوالۍ د سپین جومات په کلی کې د ۱۴۴۷ کال د ربیع الاول ۲۸ نېټه کشف او په بریالیتوب سره شنډ کړ.

دا بم چې د تېرې جګړې له پاتې شونو څخه وو او د سترې ویجاړۍ وړتیا یې لرله، د موقعیت له تثبیت وروسته د تخنیکی ټیم له لورې د سیمه‌ییزو چاراوکو په بشپړه همغږۍ په خوندي ډول له منځه یوړل شو او د هر ډول احتمالی پېښې مخه ونیول شوه.

د لوګر ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست مسؤلین وایی چې د ماین‌پاکۍ له مؤسسو سره په ګډه هڅې روانې دی څو د ټول ولایت په کچه ماینونه او ناچاوده توکی کشف او له منځه یوړل شی او موخه یې له خطر سره د مخ خلکو د امنیت ډینګښت او هوساینه رامنځته کول دی.

د سیمې اوسېدونکو هم له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی ادارې او همکارو بنسټونو له هڅو مننه وکړه او دا یې د امنیت د ډینګښت او د چاودېدونکو موادو د ګواښونو د کمولو په لور مهم ګام وباله.

## د سمنګان ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۱,۲۶۷ زیانمنو کورنیو ته نغدې مرستې ووېشلې




له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی ادارې او د ASIO موسسې ترمنځ د لاسلیک شوی هوکړه لیک له مخې، د سمنګان ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د یادې موسسې په مالی ملاتړ چې د پروژې تمویلوونکی یې د خوړو نړیوال پروګرام (WFP) دی، په حضرت سلطان ولسوالۍ کې د وچکالۍ له امله د ۱۴۴۷ کال د ربیع الاول ۲۸ نېټه ۱۲۶۷ زیانمنو کورنیو ته نغدې مرستې ووېشلې.
د دې پروژې په جریان کې هرې کورنۍ ته ۲,۹۰۰ افغانۍ او ټولټال د یاد شمېر کورنیو لپاره درې میلیونه او شپږ سوه څلور اویا زره او درې سوه افغانۍ (۳,۶۷۴,۳۰۰) افغانۍ نغدې پیسې ووېشل شوې.

## ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت کندز برای ۹۰۷ خانواده نیازمند مساعدت نقدی توزیع کرد




بر اساس تفاهم‌نامه میان اداره ملی آمادگی مبارزه با حوادث و مؤسسه ASIO که تمویل کننده پروژه آن برنامه جهانی غذا(W-FP) می‌باشد، ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت کندز مرحله دوم مساعدت‌های نقدی این را برای ۹۰۷ خانواده نیازمند و مستحق که قبلاً سروی شده بودند، بتاریخ ۲۹ ربیع الاول سال ۱۴۴۷ هـ ق در ولسوالی گلتپه توزیع نمود.
در این روند، به هر خانواده مبلغ ۲,۹۰۰ افغانی توزیع گردید که مجموعاً مبلغ دو میلیون و شش‌صد و سی‌هزار و سه صد(۲,۶۳۰,۳۰۰) افغانی برای این خانواده‌ها اختصاص یافته بود.

## د ننګرهار ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۲۷۲ زلزله ځپلو کورنیو ته نغدې او غیر خوراکی مرستې ووېشلې




د ننګرهار ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د کډوالۍ نړیوال سازمان (IOM) په مالي او تخنیکي همکارۍ، د دې ولایت د کوټ، بټی کوټ، شینواری، اچین، سپین غر، لعل پوره، هسکه مینه، بهسود، پچیراګام ولسوالیو او مرکز جلال آباد ښار اړوند ۲۷۲ کورنیو ته چې د تېرو سېلابونو او وروستۍ زلزلې له امله زیانمنې شوې وې له سروې او ارزونې وروسته د ۱۴۴۷ کال د ربیع الاول ۲۸ نېټه نغدې او غیر خوراکی مرستې ووېشلې.
په دې لړۍ کې د سیمه ییزو مسؤلینو په شتون کې له یاد شمېر کورنیو څخه ۲۶۷ کورنیو هرې یوې ته د ۱۳۰ ډالرو معادل ۸,۸۰۰ افغانۍ، چې ټولټال دوه میلیونه او درې سوه نه څلوېښت زره او شپږ سوه (۲,۳۴۹,۶۰۰) افغانۍ نغدې پیسې د یاد شمېر کورنیو لپاره ځانګړې شوې وې. همدارنګه، د ۲۶۷ کورنیو له جملې ۴۲ کورنیو ته چې کورونه یې زیات ویجاړ شوی وو، هرې کورنۍ ته یو باب خیمه او ۵ نورو کورنیو هرې یوې ته خیمې، کمپلې، د پخلنځي وسایل او سولري څراغونه ووېشل شول.

## آغاز کار اعمار دیوال استنادی در ولسوالی ارگو ولایت بدخشان




ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت بدخشان کار اعمار یک دیوال استنادی را در قریه تاقلک ولسوالی ارگو بتاریخ ۲۸ ربیع الاول سال ۱۴۴۷ هـ ق آغاز نمود.
این پروژه به هدف جلوگیری از خطرات سیلاب‌ها و کاهش تلفات جانی و خسارات مالی، با حضور شماری از مسئولین محلی تهداب گذاری گردید.
پروژه متذکره به اساس حکم عالیقدر امیرالمؤمنین حفظه‌الله، از سوی اداره ملی آمادگی مبارزه با حوادث تمویل و عملی می‌گردد.
قابل یادآوری است که قبلاً توسط انجینیران اداره ملی آمادگی مبارزه با حوادث، در قریه تاقلک سروی تخنیکی انجام شده بود که این ساحه به‌عنوان یکی از نقاط آسیب‌پذیر در برابر سیلاب‌ها شناسایی گردیده است. اکنون با هزینه یک میلیون و یکصد و هشتاد هزار (۱،۱۸۰،۰۰۰) افغانی کار عملی پروژه اعمار دیوال استنادی آغاز شده است.
باشندگان محل از آغاز این پروژه ابراز خرسندی نموده و برای بقا و ثبات نظام دعا کردند.

## ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت سرپل برای ۱,۶۰۷ خانواده مساعدت نقدی توزیع کرد




ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت سرپل با حمایت مالی موسسه اکشن‌اید و بر اساس تفاهم‌نامه امضا شده با اداره ملی آمادگی مبارزه با حوادث، بتاریخ ۲۹ ربیع الاول سال ۱۴۴۷ هـ ق برای ۱,۶۰۷ خانواده نیازمند در ولسوالی سانچارک آن ولایت مساعدت نقدی توزیع نمود.

در این روند که به هر خانواده پس از انجام سروی، در دو کتگوری؛ طوری‌که در کتگوری اول برای ۱۲۱۵ خانواده، به هر خانواده مبلغ ۱۰,۲۲۵ افغانی و در کتگوری دوم، برای ۳۹۲ خانواده، به هر خانواده مبلغ ۱۲,۲۷۰ افغانی مساعدت نقدی توزیع شد.

## د میدان وردګ ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۶۰ زیانمنو شویو کورنیو ته خوراکي او غیر خوراکي مرستې ووېشې




د میدان وردګ ولایت له پېښو سره د مبارزې امادګۍ ریاست د REHA مؤسسې په ملاتړ، د ۱۴۴۷ کال د ربیع الاول ۲۹ نېټه د دې ولایت په نرخ ولسوالۍ او تاتر او صد برګ کلیو کې د اقلیمي تغیراتو له امله ۶۰ زیانمنو شویو کورنیو ته خوراکی او غیر خوراکی مرستې ووېشلې.

په دې لړۍ کې هرې کورنۍ ته له سروې وروسته، د ۴۲۸ ډالرو په ارزښت بستې، چې یو عدد ۱۰۰ آمپیره بټریو، یوه تخته ۴۴۰ واټه سولر، یو ۱۲ ولټه چارج کنټرولوونکی، یو د انرژۍ لږ مصرفوونکی چراغ او یوه د میوو او سبزیو وچوونکې لمریزې دستګاه شتون درلود ووېشل شوې.

د مرستو د وېش په لړۍ کې، د میدان وردګ ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریس، مولوی فیض الله جلالی، زیانمنو شویو کورنیو ته ډاډ ورکړ، که هر څو دا مرستې ستاسو د زیان په اندازه نه دي، مګر په ټوله کې له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی اداره او د افغانستان اسلامی امارت په دې هڅه کې دی ترڅو د خلکو لپاره زیاتې مرستې او لازم ملاتړ وړاندې کړی.

## د لغمان ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۱۸۰ زلزله ځپلو کورنیو ته خوراکی او غیر خوراکی مرستې ووېشلې




د لغمان ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست، د دې ولایت په بېلا بېلو ولسوالیو کې ۱۸۰ زیانمنو کورنیو ته چې د وروستۍ زلزلې له امله زیانمنې شوې وې، له سروې وروسته د ۱۴۴۷ کال د ربیع الاول ۲۹ نېټه خوراکی او غیر خوراکی مرستې ووېشلې.

په دې لړۍ کې هرې کورنۍ ته د مسؤلینو په شتون کې، ۸۰ کیلو اوړه، د یونسیف سازمان یو د پخلنځی کېټ، د یونسیف سازمان یو د ژمنۍ البسې کېټ، یو جارو او یو پلاستیکی فرش وویشل شول.

## د پکتیا ولایت له پېښو سره د مبارزې ریاست ۸۷ کورنیو ته خوراکي او غیر خوراکي مرستې ووېشلې




د پکتیا ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د وروستیو بارانونو او سېلابونو له امله ۸۷ زیانمنو شویو کورنیو ته له سروې وروسته د ۱۴۴۷ کال د ربیع الاول ۲۹ نېټه خوراکي او غیر خوراکي مرستې ووېشلې.

په دې لړۍ کې، ۲۴ کورنیو ته ۱۰۰ کیلو غنم، ۲۵ کیلو وریجې، ۳ تختې کمپلې او ۱۰ کلچې صابون او ۶۳ نورو کورنیو ته ۵۰ کیلو غنم، ۲۵ کیلو وریجې، ۳ تختې کمپلې او ۱۰ کلچې صابون ووېشل شو او همدارنګه ۲ کورنیو ته، چې کورونه یې په بشپړ ډول سره ویجاړ شوی وو ۲ بابه خېمې هم ووېشل شوې.

د مرستو د وېشلو په لړۍ کې، د پکتیا ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ رئیس، مولوی نثار احمد نجات، زیانمنو شویو کورنیو ته ډاډ ورکړ، چې دا اداره له تاسو سره خوا کې ولاړه ده او په راتلونکې کې به له نورو زیانمنو شویو او اړمنو څخه ملاتړ وکړي.

په عین حال کې، زیانمنو شویو کورنیو د مرستو د ورکولو په پار خوښي څرګنده کړه او ویې ویل چې په ښه وخت کې سروې او ورته مرستې ترسره شوې.

## ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت سرپل برای ۱۴۷۱ خانواده کمک نقدی توزیع کرد




براساس تفاهم‌نامه امضا شده میان اداره ملی آمادگی مبارزه با حوادث و مؤسسه ماهو، ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت سرپل پس از انجام سروی، برای ۱۴۷۱ خانواده متضرر و نیازمند در قریه‌های مختلف ولسوالی سوزمه‌قلعه این ولایت که بر اثر خشک‌سالی آسیب دیده بودند، بتاریخ ۳۰ ربیع الاول سال ۱۴۴۷ هـ ق کمک نقدی توزیع نمود.

در این روند، در حضور مسئولین، به هر خانواده مبلغ ۲۹۰۰ افغانی توزیع گردید که در مجموع برای این تعداد خانواده مبلغ چهار میلیون و دوصد شصت و پنج هزار و نه‌صد (۴،۲۶۵،۹۰۰) افغانی اختصاص یافته بود.

## د زابل ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۳۷ بې وزله او زیانمنو کورنیو ته خوراکي او غیرخوراکي مرستې ووېشلې

د زابل ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست، د یاد ولایت د میزانه، سیوری، شینکۍ، خاک افغان، شاجوی، شهر صفا ولسوالیو او مرکز قلات ښار اړوند ۳۷ بې وزله او زیانمنو کورنیو ته له سروې وروسته د ۱۴۴۷ کال د ربیع الاول ۲۹ نېټه خوراکي او غیرخوراکي مرستې ووېشلې.

په دې لړۍ کې د مسؤلینو په شتون کې، له یاد شمېر کورنیو څخه ۴ کورنیو هرې یوې ته ۲ بورۍ ۵۰ کیلویي غنم، ۲ بورۍ ۲۵ کیلویي وریجې، ۱ تخته چړیکی بستره، ۵ کلچې د لاس مینځلو صابون، ۲۲ کورنیو هرې یوې ته ۱ بورۍ ۲۵ کیلویي وریجې او ۱ بورۍ ۵۰ کیلویي غنم، ۷ کورنیو هرې یوې ته ۱ بورۍ ۵۰ کیلویي غنم، ۱ کورنۍ ته ۱ بورۍ ۲۵ کیلویي وریجې او ۲ بورۍ ۵۰ کیلویي غنم، ۱ کورنۍ ته ۳ بورۍ ۲۵ کیلویي وریجې او ۳ بورۍ ۵۰ کیلویي غنم، ۱ کورنۍ ته ۱۰ بورۍ ۲۵ کیلویي وریجې او ۱ کورنۍ ته ۱ بورۍ ۲۵ کیلویي وریجې ووېشل شوې.

## د بدخشان ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۷۱ مستحقو کورنیو ته خوراکي او غیرخوراکي مرستې ووېشلې

د بدخشان ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست، د یاد ولایت په مرکز فیض آباد ښار کې ۷۱ مستحقو کورنیو ته له سروې وروسته د ۱۴۴۷ کال د ربیع الآخر ۱ نېټه خوراکي او غیرخوراکي مرستې ووېشلې.

په دې لړۍ کې د مسؤلینو په شتون کې، هرې کورنۍ ته یوه بوری ۵۰ کیلویي اوړه، یوه بوری ۲۵ کیلویي وریجې، دوه تختې کمپلې او له یاد شمېر کورنیو څخه ۱۷ کورنیو هرې یوې ته یو د اوبو ګرم کوونکی هم ووېشل شو.

## د کندهار ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۳۱۰ زیانمنو کورنیو ته خوراکي او غیرخوراکي مرستې ووېشلې



د کندهار ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست، د یاد ولایت په ژړۍ، پنجوایی، ډنډ او تخته پل ولسوالیو کې ۳۱۰ کورنیو ته چې د وچکالۍ له امله زیانمنې شوې وې، له سروې وروسته د ۱۴۴۷ کال د ربیع الآخر ۱ نېټه خوراکي او غیر خوراکي مرستې ووېشلې.

په دې لړۍ کې د سیمه ییزو مسؤلینو په شتون کې هرې کورنۍ ته، ۱۰۰ کیلو غنم، ، ۵۰ کیلو وریجې، ۱ تخته کمپله او ۳ جوړه څپلکې ووېشل شوې.

د یادونې وړ ده، چې د دې مرستې په جریان کې ۳۱۰ کسانو ته د ماینونو د خطرونو، وچکالۍ او سیلابونو په اړه عامه پوهاوی هم ورکړل شو.

## د کنړ ولایت په دره پیچ او چپه دره ولسوالیو کې د وروستی زلزلې له امله د ۳ تنه شهیدانو او ۱۶۹ تنه ټپیانو ورثه ته نغدی مرستې ووېشل شوې

د عالیقدر امیرالمؤمنین حفظه الله د مهربانۍ او زلزله ځپلو ته د رسېدنې کمېټې د لارښوونې له مخې، د کنړ ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست، د کنړ ولایت په دره پیچ او چپه دره ولسوالیو کې د وروستۍ زلزلې له امله د ۳ تنه شهیدانو او ۱۶۹ تنه ټپیانو ورثه ته د ۱۴۴۷ کال د ربیع الآخر ۱ نېټه نغدی مرستې ووېشلې.

دا لړۍ، له پېښو سره د مبارزې امادګۍ د رئیس؛ محترم مولوی محمد مبین مفتون عمر، د یادو ولسوالیو د ولسوالانو او د علماوو کمېټې له لوری د تعیین شوی پلاوی او همدارنګه د سرې میاشتې د پلاوو په شتون کې تطبیق شوه.



په دې لړۍ کې، له دره پیچ ولسوالۍ څخه ۱۰۲ تنه ټپانو هره یوه ته ۱۰،۰۰۰ افغانۍ او د ۳ تنه شهیدانو هر یوه ورثه ته ۲۰،۰۰۰ افغانۍ او همداراز په چپه دره ولسوالۍ کې ۶۷ ټپیانو هر یوه ته ۱۰،۰۰۰ افغانۍ ووېشل شوې.

باید وویل شي، چې دا لړۍ له وړاندې څخه د څوکۍ او نورګل ولسوالیو په ټولو زلزله ځپلو سیمو کې تطبیق شوې ده.

## د ننګرهار ولایت په مومندره ولسوالۍ کې د ۲۰۰ مترو په اوږدوالي د استنادی دیوال د جوړېدو چارې پرانیستل شوې




د ننګرهار ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست، د CWSA موسسې په تخنیکی همکارۍ او د جاپان هېواد په مالي ملاتړ، د ۱۴۴۷ کال د ربیع الآخر ۲ نېټه د یاد ولایت د مومندرې ولسوالۍ په هزارناو جار کلی کې د ۲۰۰ مترو په اوږدوالی د استنادی دېوال د جوړېدو چارې رسماً پیل کړې.

له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست مسؤلینو وویل، چې دا استنادی دیوال به د ۳۹ زره امریکایی ډالرو په لګښت د دوو میاشتو په موده کې بشپړ شی او د دې پروژې په بشپړېدو سره به شاوخوا ۴۰۰ کورونه او لسګونه جریبه کرنیزه ځمکه د سیلابونو له خطر څخه خوندی پاتې شی.

د سیمې اوسېدونکو د دې پروژې د چارو په پیل سره له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست او موسسې څخه خوښی او قدردانی وکړه او ویې ویل، چې د دې پروژې په عملی کېدو سره به د هغوی د ځان او مال د خوندیتوب لپاره خورا ګټور تمام شی.

## د بادغیس ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۱,۷۰۱ زیانمنو کورنیو ته خوراکی مرستې ووېشلې




له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی ادارې او د افغان ځوانانو موسسې (AYSO) ترمنځ د لاسلیک شوی هوکړه لیک له مخې، د بادغیس ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د یادې موسسې په مالی ملاتړ، د دې ولایت په مرکز قلعه نو کې د وچکالۍ له امله ۱,۷۰۱ زیانمنو کورنیو ته له سروې وروسته د ۱۴۴۷ کال د ربیع الآخر ۲ نېټه د لومړی پړاو خوراکی مرستې ووېشلې.

په دې لړۍ کې هرې کورنۍ ته د مسؤلینو په شتون کې ۵۰ کیلو اوړه، ۵ لیتره غوړی، ۲ بستې مالګه او ۳ کیلو دال ووېشل شول.

## ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت تخار برای ۵۶۲ خانواده کمک نقدی توزیع کرد




براساس تفاهم‌نامه‌ی امضا شده میان اداره ملی آمادگی مبارزه با حوادث و مؤسسه کوړد اید، ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت تخار با پشتیبانی مالی این مؤسسه، برای ۵۶۲ خانواده‌ی آسیب‌دیده و نیازمند در ولسوالی چال آن ولایت پس از انجام سروی، بتاریخ ۱ ربیع الاخر سال ۱۴۴۷ هـ ق کمک نقدی توزیع کرد.

در این روند، به هر خانواده در حضور مسئولان محلی مبلغ ۵۷۲۰ افغانی معادل ۸۵ دالر توزیع شد که در مجموع سه میلیون و دوصد و چهارده هزار و ششصد و چهل (۳,۲۱۴,۶۴۰) افغانی برای این تعداد خانواده اختصاص یافته بود.

## ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت ننگرهار برای ۱۲ خانواده آسیب‌دیده کمک‌های غذایی توزیع کرد



بر اساس تفاهم‌نامه‌ی امضا شده میان اداره ملی آمادگی مبارزه با حوادث و مؤسسه ARCIO، ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت ننگرهار با همکاری تخنیکی این مؤسسه و حمایت مالی برنامه جهانی غذا (WFP)، در شهر جلال‌آباد بتاریخ ۱ ربیع الاخر سال ۱۴۴۷ هـ ق به ۱۲ خانواده آسیب‌دیده کمک‌های غذایی توزیع کرد.

در جریان این روند، در حضور مسئولین به هر خانواده ۱۰۰ کیلو آرد، ۹.۱ کیلو روغن، ۱۲.۵ کیلو دال و ۱ کیلو نمک توزیع گردید.

## د دایکندی ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۷۲۳ زیانمنو کورنیو ته نغدې مرستې ووېشلې



له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی اداري او د افغانستان لپاره د ناروې کمېټې ترمنځ د لاسلیک شوی هوکړه لیک له مخې، د دایکندی ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د یادې موسسې په مالی ملاتړ، د ۱۴۴۷ کال د ربیع الآخر ۲ نېټه د دې ولایت د شهرستان ولسوالۍ په بېلابېلو کلیو کې ۷۲۳ کورنیو ته نغدې مرستې ووېشلې.

په دې لړۍ کې، له سروې وروسته د مسوولینو په شتون کې، هرې کورنۍ ته ۲,۹۰۰ افغانۍ ووېشل شوې, چې ټولټال دوه میلیونه او شپږ نوی زره او اووه سوه (۲,۰۹۶,۷۰۰) افغانۍ نغدې پیسې د یاد شمېر کورنیو لپاره ځانګړې شوې وې.

د یادونې وړ ده, چې دا مرستې د طبیعی پېښو پر وړاندې د خلکو د زیانمنتیا کمولو په موخه ترسره شوې.

## ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت بلخ برای ۹۷۲ خانواده آسیب‌دیده از خشکسالی مواد غذایی توزیع کرد



بر اساس تفاهم‌نامه امضا شده میان اداره ملی آمادگی مبارزه با حوادث و مؤسسه SFL که تمویل کننده پروژه آن برنامه جهانی غذا (WFP)می‌باشد، ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت بلخ با حمایت این مؤسسه، در دور دوم پروژه کمک‌های مشروط و غیرمشروط برای ۹۷۲ خانواده آسیب دیده از خشکسالی در ولسوالی زاری بتاریخ ۲ ربیع الاخر سال ۱۴۴۷ هـ ق مواد غذایی توزیع کرد.

در این روند، در حضور مسئولین برای هر خانواده ۵۰ کیلو آرد، ۴.۵۵ کیلو روغن، ۶.۲۵ کیلو دال نخود و نیم کیلو نمک توزیع گردید.

# د غزني ولایت په قره باغ ولسوالۍ کې د استنادی دېوال د جوړېدو چارې پرانیستل شوې




د عالیقدر امیرالمومنین حفظ الله د حکم پر بنسټ، چې د طبیعي پېښو د خطرونو د کمولو په موخه په هر ولایت کې د یوې کوچنۍ بېړنۍ وقایوی پروژې د پلی کېدو لپاره یې د یو میلیون (۱،۰۰۰،۰۰۰) افغانیو بودجه منظوره کړې او دا وقایوی پروژې له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی ادارې له لوری تمویل او پلی کېږی.
په همدې لړ کې، د ۱۴۴۷ کال د ربیع الآخر ۲ نېټه د غزنی ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د یاد ولایت د قره باغ ولسوالۍ د موشکی کلی په سرګوده سیمه کې د سېلابونو له امله د ځانی او مالی خطرونو او زیانونو د مخنیوی په موخه د یو استنادی دېوال د جوړولو کار د قره باغ ولسوال، سیمه ییزو مشرانو او د سیمې اوسېدونکو په شتون کې پیل کړ.
ورته مهال د سیمې اوسېدونکو د دې پروژې هرکلی وکړ او د پروژې په بشپړېدو کې یې د هر اړخیزې همکارۍ ډاډ ورکړ.

## عامه پیغامونه :

**12. د خپل توان او طاقت سره سم اوبه مدیریت او مهار کړئ ترڅو د سېلاب او وچکالۍ د خطرونو څخه ځانونه او مالونه وژغورئ**

**13. داحتمالي سیلاب راوتلو په سیمو کې د ودانیو له جوړولو څخه ډډه وکړئ**

**14. د سیلاب زور او قوت ته په کمه سترګه مه ګورئ**

**15. مخکې تر دې چې ستاسو ځمکه یا باغ سیلاب یوسې استنادي دیوالونه ورته جوړ کړئ**